# د بنسټ د مؤسس څرګندونه

زما لپاره نن یوه ډېره بختوره ورځ ده چې د پښتو د بډای او سپېڅلي ادب د پرمختګ په موخه یو زړور او متواضع ګام اوچتوم. پښتو ادب په خپلو دوارو اړخونو کې یانې هم د خواصو او ایلیټ ادب په برخه کې او هم په فلکلور او عوامي ادب کې د اوچت کیفیت او ښکلا خاوند دی، خو دا کیفیت او بډایښت له کوم سیاسي او مالي ملاتړه پرته او له سختو شرایطو سره سره لاس ته راغلی دی، ځکه خو شاعرانو د مغولو او بریتانوي هند په جېلونو کې خپل هنر ابدي کړی او په سوځېدلو کلو کې بېوزلو او بې‌برخو پېغلو او مېرمنو زمونږ بې‌ساري فلکلوري ادبیات منځ ته راوړي دي؛ نو زه ویاړم چې له همدې نومیالي فرهنګ سره د مرستې لپاره جنید بنسټ پرانیزم.

زه ډاډه یم چې د پښتو ادب مینه‌وال به د دې بنسټ له لارې د شعر، داستان او کره‌کتنې په هڅولو او پیاوړي کولو کې برخه واخلي. و من الله توفیق!